دانترنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی : عزیزاحمد خوارمل

# د امریکا داردو په نظامی ځواکونو کښې ځان وژنی دتیروکلونوپه پرتله په (۲۰۰۸) م کال کې زیاتوالی ښیې!

دامریکایی سربازانودځان وژنی شمیرنه ددوو جګړوپه ترځ کې په عراق اوافغانستان کې اودامریکا دهیوادڅخه بهر داوږدی مودی اوډېرو دندودتره سره کولوپه بهیر کې دغه سربازان دټینګ اوژوراسترس سره مخامخ سوی دی اوپه تیرکال کې دغه شمیرنه وخپل لوړپړاوته ورسیدی .دا په داهسی حال کې دی چې دامریکا یی سربازانوپه منځ کې دځان وژنی شمیرنه ، په پرله پسی توګه په څلرم کال زیاتوالی موندلی دی اوهمدارنګه دلمړی ورځوڅخه بیا دا تراوس پوری دسربازانوپه منځ کې ځان وژنه ډېره پراختیای یې پیداکړی دی .



دامریکا نظامی مشرانو اعلان یې کړی دی چې ددی ځان وژنو دمخنیوی دپاره هرډول کړنی چې ددوی په وسه او واک کې وي ترسره به یې کړي .

ددفاع دوزارت دغه جګپوړی چارواکی ددی وړاندیز هم کړی دی چې یوشمیر دارواح پوهنی اوساپوهنی کارپوهان اومتخصیصین په دی هکله ددی کار اوپرابلم دپاره مرستی وکړی اودهمدی ډول سربازانوسره د نږدی اړیکی وساتی ترڅوددی کارڅخه مخنیوی وکړای سی .

داسوشیتدپرس دخبری آژانس دیورپوټ پربنسټ ،دامریکا ددفاع وزارت پینتاګون اعلان یې کړی چې (۱۲۸) یوسلواته ویشت تنه امریکایی سربازان په (۲۰۰۸) دوزره اتم میلادی کال کې ځان وژنی یې کړی دی اووروستنی شمیرنه به هم ممکن تردی زیات وی ځکه چې اوسمهال د (۱۵) پنځلسونامعلوموااومشکوکووژنودپیښوڅیړنی اوتحقیقات لاتراوسه پوری واضح سوی نه دی اوددغوپیښو څیړنی هم ترکارلاندی دی .

پته ګرن دامریکا ددفاع وزارت پینتاګون یوجګپوړی چارواکی وویل : همدا اوسمهال موږولی باید پرېږدو چې په امریکایی سربازانوکښې د ځان وژنی شیمر لوړولاړسی اوکولای سو چې ووایو دامریکا داردو دځواکونوپه هکله موږهوډمن یو که دپیل او کار په له منځه وړلو اوپه ترسره کولو کې عملی کړنی رامنځته کړونوهرومروبه ددی کاره څخه مخ نیوی وسی .

کیم روکو چې خپله نظامی خاوند (میره )یې دکالیفرنیاپه یو هوټل کې په دار وزړه واه وی ویله دغه ټول موضوعات دهغه ځایه څخه رامنځته سوی دی چې د استرس اودیولړنورو ستونزوله امله:

**په امریکایی سربازانو کښې منځته راغلی دی  چې دامریکا د دفاع وزارت پینتاګون  چارواکی یې  هم ښه وینی . ده وویله   چې خاوند(میره ) یې (۷۵) ځله  خپلی دندی یې په عراق کې ترسره کړی وو،اوډیری ستونزی اوروانی پرابلمونه یې لرل دهغه جملی څخه داسترس سره لاس اوګریوان وو.**

**همدارنګه السیت ریتچی،چې دامریکاددفاع په وزارت پینتاګون کی  داروا‌ح پوهنی یومشوره ورکونکی اومشاور دی،ددی مسئلی دمخنیوی دپاره وړاندیزونه یې رامنځته کړی دی  چې  دامریکا داردوپه ځواکونوکې دی  داروا‌ح پوهنی  اوسا پوهنی دکار دترسره کولودپاره دسربازانوپه منځ کې ددی کار دسرته رسولودپاره یوشمیرنورمتخصیصن راوبلل سی  ،ده وویل  موږ ددفاع ووزارت ته دیوشمیرساپوهانو اوداروا‌ح پوهنی دمتخصیصنودګمارلوپه هڅه کې یواوموږ ددی مسئلی دمخ نیوی د پاره  ه ددی متخصیصینوڅخه مرسته غواړو.**

**همدارنګه ده وویل ،دامریکا نظامی مشرانو  په  دی هکله یې په تینګار سره ویلی چې  ددی پیښودمخنیوی  په خاطرپه راتلوونکوورځوکښې کیدونکی  کړنی به پیل  اوترسره کړی .**

**دامریکایی سربازانو دځانی وژنی شمیره په (۲۰۰۶) کال کې (۱۰۲) تنه اوپه (۲۰۰۷) میلادی کال کې (۱۱۵ ) تنه  اوپه (۲۰۰۸) م کال کې (۱۲۸) تنوته رسیدلی دی  .**

همدارنګه دواشینګټن پوست ورځپانی هم په دی هکله ولیکل : ژنرال پیتر چیارلی  دامریکا دقواو قوماندان وویل : په دی کې کوم شک  نیسته چې استرس اوروانی اضطرابونه دزیاتوځان وژنوپه کارکې ګټور ګڼل کیدی سی .

دواشینګټن پوست ورځپانی  د(۴) خلورتنودځان وژنوپه هکله چې  دوه (۲) تنه یې دنظامی پوهنتون محصلین وو چې دوه اونی مخ کې  په ځان وژنویې لاس پوری کړی وو، وې یې لیکل : داردودنظامی پوهنتون چارواکی یو ډله دطبی جراحانوڅخه یې  ددی وژنودڅیړنی دپاره موظف کړی دی  چې دغه پیښی  وڅیړی ،ځکه دنوامبردمیاشتی  څخه تردا اوسه  پوری په دی نظامی پوهنتون کې (۵) کسه ځانونه  یې له منځه وړلی دي . ددی راپور پربنسټ ددغو (۵) پنځوکسووژل سوی  محصلینودجملی څخه دوه(۲) تنه یې په روانی ناروغیواخته وو.

دژباړن یادداښت :

پرعراق باندی دامریکادیرغل څخه وروسته دهغه نیټی نه تردااوسه پوری (۴۲۳۶) تنه امریکایی سربازان  په عراق کې وژل سوي دي .

اوپرافغانستان باندی دامریکا دیرغل د۲۰۰۱  م کال څخه را وروسته بیاتردا اوسه پوری  تر (۵۰۰) پنځه سوه تنه پوری  ډیرتره امریکایی سربازان په افغانستان کې وژل سوي دي .  /

اخیځلیک:

-دجام جم دسایټ څخه

– دقطرنیوز دسایټ څخه  .